# شهید ورور

## نیمګړی ژوند

لیکوال: عبیدالله جلالزی

Ketabton.com

کال ۱۴۰۲ /۸/۵

Obaidullahjalalzai1@gmail.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

Obaidullahjalalzai1@gmail.com

**الله تعالى دمسلمانانو سره په قرآن مجيد کې څلور وعدې کړي دي!**

① ﴿فَاذْكُرُوْنِيْٓ اَذْكُرْكُمْ﴾ (سورة البقرة:153آيات)
تاسې ما ياد کړئ، زه به تاسې ياد کړم.

② ﴿لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَاَزِيْدَنَّكُمْ﴾ (سورة ابراهيم 7آيات)
که تاسې شکر وباسئ نو نعمتونه به درته زيات کړم

③ ﴿اُدْعُوْنِيْٓ أَسْتَجِبْ لَكُمْ﴾ (سورة مؤمن60آيات)
مانه وغواړئ زه به ستاسې دعاوې قبولې کړم.

④ ﴿وَمَا كَانَ اللّٰهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُوْنَ﴾ (سورة انفال23آيات)
او الله پاک دوی ته په داسې حال کې عذاب ورکونکی نه دې چې دوی ببښنه غواړي.

د ګناهونو د ببښنی لپاره درود شريف

(الهم صل على سيدنا محمد وعلى اله وسلم).

Obaidullahjalalzai1@gmail.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ډالـــۍ

**شـــهید ډاکتـــر عبـــدالله جلالـــزی چـــې یـــو اســـلام پـــال او علـــم دوســـت شـــخص و. او وطـــن پـــال او د خپلـــې ژبـــې خـــدمت کـــوونکی انســـان و. د پښـــتو ډیـــر ارمانونـــه یـــې ګـــور تـــه یـــوړل ډالـــۍ کـــوم، روح یـــې ښـــاد او پـــه ګـــور یـــې نور باران.**

عبیدالله جلالزی

Obaidullahjalalzai1@gmail.com

# د عنوانونو فهرست

لومړۍ برخه ........................................................................................ 4
دویمه برخه........................................................................................ 5
دریمه برخه........................................................................................ 13

(c) ketabton.com: The Digital Library


# لومړی برخه

## لنډ ژوند لیک

ډاکتر عبدالله جلالزی په کال ۱۳۸۲ د غبرګولی په میاشت کې د غزني ولایت د واغظ ولسوالۍ د رعناخیلو په څرې کلی کې دنیا ته راغلی دی. عبد الله چې څه وخت یې لومړنۍ زده کړې په پکتیکا ولایت کې او څه یې په خپله منطقه کې کړي وي او له دوولسم څخه فارغ او د غزني ولایت په عمر انستیتوت کې د نرسنګ له فعالو او تکړه محصلنو څخه و. چې په راروانو څو اوونیو کې یې فراغت هم کیده. او له نرسنګ څخه فارغ کیده. چې مخکې له فراغت څخه مو عبدالله جان ته کوزده هم کړې وه. کوزده مو په هرات ولایت کې ور ته کړې وه. ډاکتر عبدالله هرات ته تللی و. ویل یې چې هراته به د خسر کور ته هم لاړ شم او عزت الله ورور به هم را سره راولم. عزت الله له ایران څخه کور ته راتلل خو غرت الله مخکې له عبدالله کور ته ورسیده او وروسته بیا عبدالله هم کور ته راغی. له دریو ورځو وروسته په کال ۱۴۰۲ د وږی په ۲۵ نیټه د شنبه په ورځ د غرمې په ۱۲:۲۵ په لاندې پیښه کې شهید شو.

انا لله و انا الیه راجعون

Obaidullahjalalzai1@gmail.com

# دویمه برخه

شپه وه خوب نه را تلو.
د سهار خوا ته مې سترګې پټې شوې وې خوب مې لیده:

د خولې له غاښونه څخه مې یو کلک غاښ څوک را مات کړي درز شو له خوبه را وپاڅیدم ګورم هیڅ هم نشته او روغ یم.

سهار مې خوب مې مور ته هم ووایو.

مور مې ویل:

زویه ښه خوب دی نه ده لیدلی کومه بده پیښه ونه شي خدای دی رحم وکړی.

خوب مې د تلیفون په "تعبیر خوب" برنامه کې هم ولټول خو معنا يې دا وه:

په خپلو خپلوانو کې به کوم څوک له لاسه ورکړې یا به د کومې ناروغې له کبله او یا د کومې پیښې له کبله او بله يې دا وه چې څوک به ظلم در سره وکړی. باور مې نه پری وکړ.

ټلیفون مې په جیب کې واچول او د سهار چای مو وڅښل وروسته مې تلیفون کې څه متن لوست چې عبدالله را ته وویل:

نن عبیده ښوونځې ته مه ځه مور به واغظ ته لاړ شو هلته مو کار ده او ته به عبد الرحمن ته ورشی د پاسپورت ریاست ته نور کار هغه خپله کوی.

ما وویل

سمه ده.

Obaidullahjalalzai1@gmail.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


عبدالله غوښتل پاسپورت د بورسونو له پار جوړ کړي.

او له ایرانه چا واتساپ کې د ده اسناد او پاسپورت غوښتلي ول.

د ډاکتر عبدالله ښوونکی عجازالحق عبدالله د ایران یو پوهنتون ته معرفي کړی و خو پاسپورت یې خوښتل.

ساعت ته مې وکتل پاو باندی اته بجې وې.

عبدالله ته زنګ راغي:

ویل یې ځوک نن درځي ستاسو ځمکه ګوری که یې خوښه شوه نو اخلی یې.

ما وویل ډاکتره ځوک و.

عبدالله وویل

د رهنماوال و نن ځمکې ته ځوک راځي.

عبیده ته لاړ شه درس ته ما ته هم نن ځوک راځي که یې ځمکه خوښه شوه نو بیا به دلته څه نږدې ښار ته نوره واخلو.

ما وویل

نه زه نن ستړی یم. نن مې درس ته زړه نه ځی.

خو عبدالله بیا وویل

ته نن درس ته لاړ شه سبا به ته هم له مور سره نو واغظ ته لاړ شي څه سات به دی هم تیر شی. خپل درس ته ټینګ شه.

ما هم ومنله څه می ونه ویل او ښوونځې ته روان شوم.

Obaidullahjalalzai1@gmail.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


سخت باد او دوړی وی.

په لاره می ځنډ وشو په پاو باندی نه بجې ښوونځې ته ورسدم په دروازه کې یو تن انظباظ ولاړ و. خو ښوونځې ته یې دننه کیدو اجازه راکړه.

زه هم زړه نا زړه وم، ځان می بی ځانه و.

په ساده اصطلاح مړ پړ ټولګې ته دننه شوم د شنبه ورځ وه نه پوهیدم چې څه کیږي او ولی دارنګه یم خو وروسته پوه شوم.

په دي چې په ما ولی داسی کیفیت ده. او زما ده خوب ریښتینې معنا څه ده.
دوهم ساعت په خلاصیدو، د ریاضی ښوونکي د احصایه درس ورکاوه پنځه دقیقې نه وی تیرې خوب خنګولم.

د ښوونکی غږ شو ویل یې

ولېیه تخته پاکه کا همدا اوس راغلی بیا خوب درځي ده شپې دي څه کول.

هیڅ می هم نه وویل له میز می سر جګ کړ لاړم تخته می پاکه کړه.په میز مي کیناستم خو په درس نه پوهیدم.

ښونکي وویل پوه شوی.

خو ځواب یې تر لاسه نکړ. بیا یې وویل تا ته وایم.

ما وویل

ښښنه غواړم استاد محترم صنف کې نه وم.

ښونکی وویل

ته به هم د وطن راتلونکی جوړ کړي.

ټولګیوالو ټولو وخندل بس چوپ ناست وم.

اجازه می واخسته له صنف څخه د باندی وم.

انظباظ راغی ویل یې ټولګې ته لاړ شه.

ټولګې ته راغلم دریم ساعت و. د فزیک ښوونکی په چوکې ناست و یوه تن په تخته د موجونو تداخل او انکسار تشریح کاوه.

زه په څوکې کیناستم. ساعت ختم شو ښوونکی لاړ سر می په میز کیښود ګیچ ناست وم تفریح شوه. ویده شوی وم. وروسته بیا ښوونکی راغلی و. خو زه بیا هماغسی ویده وم. د ټولګې په اخیري چوکې کې یوه ملګری مي له خوبه راوپاڅولم.

ویل یې ښوونکی صنف کې ده ته ویده یې ملګری می احمد نومیږی.

د فراغت وخت مو نږدي دي ښونکی ویل تاسو باید شپاږس قطعې چسپی عکسونه، د الکترونیکي تذکره او کاغذې تذکره دوه دوه کاپیانې راوړي چې په نتایجو کې مو په کار دي.
ښار کې مي هم کار و. نو ښار ته لاړم او عزت ورور چې نوی له ایرانه راغلی و.

زنګ می ورته وواهه.

عزت جانه ښار ته راشه پته مې ورکړه.

عزت ویل چې سمه ده درځم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


عزت ته مې نوې جامې کولې او عکاسي کې مې هم کار و.

زه د ګلبهار عکاسي ته لاړم د فراغت لپاره مې عکسونه چاپ ته ورکړل.

عزت هم سمه پته نه وه اخستي ملامت هم نه و ایران کې يې ډير وخت وتلی و ښار څه نا څه بل ښکاریدو.

عزت مې د ګلبهار عکاسي ته راوست عکسونه هم پرنټ شوي وه.

عزت ته مې وویل عبد الله ته د څمکې اخستوونکي راغلل.

ویل يې هو همدا لږ مخکې راغلل په پاو باندې دوولس بجې ډوډۍ يې ونه خوړه او لاړ.

ما وویل سمه ده.

عبدالله ته مې زنګ وکړ.

ټلیفون له لږ مدار څخه وروسته چا ځواب ورکړ.

ومې ویل ډاکتره ښه يې صحت لري.

ویل يې ډاکتر مو زخمي دی د غزني ولایت ملکي شفاخانې ته راشه زخمي ده.

ما ویل ولې زخمي شو څه خبره ده.

خو ویل يې نه پوهیږم زر راشي.

ټلیفون يې هم کټ کړ له عکاسي په منډه زه او عزت دواړه را ووتلو موټر کې کیناستو لاړو تر یوه ځایه د موټرونو سخت شلوغ و.

له موټره پیاده شوم په منډه منډه، بیره لاړم ملکی شفاخانې ته هلته می ده عبدالله شمارې ته زنګ وواهه ومی ویل چیرته یۍ زه د شفاخانې مخته یم.

یو طالب راغی د عبد الله تلیفون یې په لاس کې و. ویل یې دلته ده.

زخمی ده.

په منډه د شفاخانې سالون ته لاړم کورم هلته ډله ډله طالبان دي د طالبانو یو مشر راغی ویل یې یو چا ویشتلی ده ویشتونکی بندی ده.

ما وویل ولی یې ویشتلی هغه ویل له چیک پوینت څخه تیر شوی دی ما وویل طالب ده.

ویل یې نه طالب نه ده.

ما وویل ښانو ټوپک خو طالبان لری او چک پوینټ هم طالبان داروي.

مقابل لوری ویل هو طالب ده خو بندي ده.

ما هم له ځان سره ویل بس زخمی ده الله به یې جوړ کړی.

د خبرو په جریان کې دوه ډاکترانو عبدالله په سپینه قلعي کې په اوږده کټ باندی پروت د شهیدانو خونی ته یووړ.

زه شکي شوم خو پوه نه شوم.

زه ورغلم د معلوماتو شعبه ته ګورم څوک معلومات نه راکوي نو لاړم د عملیاتو خونۍ چا نه پریښودم هغه می پورواړه او دننه شوم ګورمه هیڅوک نشته ډاکتران هم ناست و. ورغلم پوښتنه می وکړه.

Obaidullahjalalzai1@gmail.com

دوه ډاکتران په چوکېو ناستول چې ویل یې هغه شهید شوي و مخکې له دی چې دلته یې راوړی.

د شهیدانو خونۍ ته لاړ شه!

د سر زګونه مي د پیپ په ډول شخ شول او ولویدم له ځمکې را جګ شوم په لویدو لویدو بیا روان شوم رنګ می بدل او بی حرکته شوم.

دوه اونۍ می د سر زګونه پړسیدلی ښکاریدل او سخت درد به یې هم کول. خو درد می چا ته نه ویل ځکه مور او پلار باندی ویریدم، بس نو زیات ځانونه یې خوړل او هر وخت به یې ژړل ژوند سخت ده خو په دوی بیا هیڅ خوشحالی هم نه ده لیدلې.

د شهیدانو خونۍ ته لاړم ټول د لنګوټو وال او ده سپږوال هلته ول.

زموږ یو همسایه ډاکتر هم هلته ګرځیده.

ومی ویل ختم مو کړ الله مو په ختم کړه.

زما دی ډاکتر ارمانونه مو ختم کړل.

څو یخچالونه ایښودل شوي وه. اول یخچال می خلاص کړ څوک نه و. خو دوهم کې بیا عبدالله جان په نری ورانه ځوانې سره په وینو کې پروت وینم. او سپین مخ څخه یې رنګ الوتی ده.

او په غږ می هم نه راپاځیده چیغي می وکړی. ځواب یې نه راکاوه.

او وروسته خلک راټول شول او د شفاخانې یوه خونې ته یې بوتلم. هلته څه موده وم. نه پوهیدم څه وکړم او څوک را وغواړم چي دلته راشي.

څه وخت وروسته طالب راغی ویل یې دا دی څه ده.

Obaidullahjalalzai1@gmail.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


ومې ویل ورور مې مشر ورور مې ده.

ویل یې څه دنده یې لرله.

ما وویل محصل و. د عمر په روغتیایي علومو انستیتوت کې خو نظارت یې اخستل.

لږ وروسته بل راغی ده هم نظارت کول. ومې وویل څو واره یې لیکې لاړ شه یو بل هم وولي بیا به ته ده هغو څخه نظارت وکړی.

سړی سترګي رډی کړی او لاړ.

لږ وروسته بل راغی قلم او کاغذ یې په لاس کې وه.

ویل یې دا شهید دی څه ده.

ومې ویل زه یې ورور یم.

حل نامعلوم ده په طالبانو کې هم نه پوهیږم څو ګونده دی.

زه الله ته دعا کوم چې نور دي افغانستان کې د امان تږغر خپور شی او د عدل تږغر خپور شی.

## دریمه برخه

ډاکتر عبدالله چې یو بې ګناه ځوان و. چې د یو ظالم امارتی طالب له خو په داسی حال کې شهید شو.

چې دي په موټر سیکل په لار روان و. په چیک پوینت کې نه درول کیږي. خو د چیک پوینټ له ساحه څخه له تیریدو وروسته ده دو یا دو نیموسوو مترو په تیریده له شا څخه د غږ کولو او د ی نه اوریدلو پې وروسته کوم هوای ډز نه ده کړي او له شا څخه په مستقیم ډاز ویشتلی. ډاکتر عبدالله ځای په ځای شهید کیږی. او وروسته بیا د شهید جسد شفاخانې ته انتقالوی.

انا لله و انا الیه راجعون.

چې نه یې کومې هواې ډزې کړې تر څو دی ودریږی او نه یې کوم ډز په موټرسیکل باندی کړی بلکه مستقیم یې ویشتلی ده. روح یې ښاد او ارمانونه یې تل پاتې!

دا پورته ذکر شوي خبري ده عیني شاهیدانو دی چې هلته اوسیږی. او یاده صحنه یې په خپله لیدلي او خپله طالبانو ته یې هم دا صحنه بیان کړي. نو زه هم دا ستر ظلم چې له موږ سره شوی ده غواړم ورسوم تر څو نور داسی ظلم تکرار نه شي او د خلکو اولادونه د دوی د ظلم ښکار نه شي.

ستاسو د دعاوو محتاج!

(c) ketabton.com: The Digital Library


د شهید استاد ډاکتر عبدالله جلالزی د ځواني څو عکسونه!





Obaidullahjalalzai1@gmail.com

پای! مننه له لوستلو مو ستاسو د ښه ژوند په هیله!

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**